لیکوالان: لیون پولادا او لیلا پولادا Leon B. Poullada & Leila D.J Poullada
مترجم: عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۱۰/۰۸

# د افغانستان شاهي دولت او متحده ایالات

## The Kingdom of Afghanistan and the United States: 1828-1973

یولسمه برخه

دا کتاب د متحده ایالاتو مورخ او ډیپلومات لیون پولادا او د هغه میرمنې لیلا پولادا لیکلی دی. که څه هم چې ټول کتاب د افغانستان او امریکاد اړیکو په اړه دی خو ځینې فصلونه یې د افغانستان له اوسنیو حالاتو سره مستقیم تړاو لري ما یې هغه د ترجمې لپاره انتخاب کړي دي. زه یقین لرم چې دا فصلونه به د افغانستان د تاریخ د علاقه مندانو او تاریخ د شاګردانو لپاره په زړه پوري وي.

## اتم فصل

### پوځي مرستې ـ دوهمه برخه

د جورج مګي په خاطراتو کې ، چې په هغه وخت کې د جنوبي اسیا او نیژدې ختیځ په چارو کې د خارجه وزیر مرستیال وو، له یوې کیسې څخه ځرګندیږي چې د متحده ایالاتو مقاماتو له افغانستان سره اړیکو ته په کومه سترګه کتل. له دې کیسې څخه ښکاري چې واشنګټن د افغانستان ستراتیژیک اهمیت او د پوځي مرستو غوښتنو ته په کومه نظر کتل. مګي، په خپلو خاطراتو کې، د افغانستان په باب لیکي:

« په ۱۹۵۱ کال کې، کابل ته زما د سفر څخه مخکې، یوه په زړه پوري کیسه پیښه سوه او هغه داسې چې زما ښه افغان دوست، په واشنګټن کې د افغانستان سفیر سردار نعیم، یوه ورځ خارجه وزارت ته راغی. ده ووېل چې له افغانستان سره د امریکا د پوځي مرستو په باره کې د خبرو لپاره راغلی دی او داسې اشاره یې وکړه چې که امریکا افغانستان ته پوځي مرستې نه ورکوي نو موږ مجبور یو چې له شوروي اتحاد څخه یې واخلو. ځرنګه چې د روسیې پر پوځي مرستو باندې د افغانستان حساب کول یوه ډېره چټي مفکوره او ځرګنده غلطي وه نو زما اټکل دا وو چې دی هسې لاپې کوي. ما د ټلفون ګوشکه را پورته کړه او له خپلې سکرترې څخه مې د شوروي د سفیر د ټلفون نمبر واخیست او سردار نعیم ته مې ورکړ. او موږ دواړو سره وخندل. »

هسې لاپې! د خارجه وزیر مرستیال مګي چې د سفیر سردار نعیم خبرې هسې لاپې بللي او فکر یې نه کاوه چې افغانستان به دا کار وکړي؛ هغه لاره درې کاله وروسته داوود خان انتخاب کړه او په نتیجه کې یې د افغانستان او متحده ایالاتو دواړو لپاره فاجعه منځته راوړه. نعیم ښایي د ډیپلوماسی په اساس له مګي سره خندلي وي مګر دا خو ځرګنده ده چې هغه د مرستې لپاره جدي غوښتنه درلوده او د مګي ټوکه به یې نه وي خوښه سوې.

په ۱۹۵۱ کال کې، کابل ته د مګي د سفر په نتیجه کې، چې د افغانانو د یوې بلې ناخوښۍ سبب سو او د داوود خان پښتون غرور یې زخمي کړ، د دې ډرامې وروستی پرده نه وه. د دې ډرامې وروستۍ پرده، په ۱۹۵۳ کال کې، هغه وخت پیل سوه چې داوود خان صدراعظم سو. داوود خان یو فعال او تلواري سړی وو او دا موضوع یې له ځان سره په ټینګه حل کړه چې د ده د هیواد د عصري کولو او پښتونستان د مسلې د حلولو لپاره تر ټولو مهم بنسټ د غښتلي دفاعي قوې درلودل دي. د افغانستان د پوځي قواوو حالت ډېر خراب وو. پوځ زیاتره له قبیلو څخه جوړ سوی وو او تر حکومت یې خپلو قبیلوي ربنو او خپلویو ته زیات اهمیت ورکاوه. زړې عسکري دریشۍ به یې اغوستې وي او ډول ډول انتیک او زاړه توپکونه به ورسره وه ، پوځ نه وو بلکه د پوځ یو خندوونکی کاریکاتور وو.

د ۱۹۵۴ کال د اکتوبر په میاشت کې، وروسته له هغه چې ایزنهاور د امریکا جهوررئیس سو، داوود خان هیله درلوده چې ایزنهاور هم یو عسکر دی او ګوندي د ده د پوځي مرستو غوښتني ته به توجه وکړي. خپل ورور سردار نعیم یې، چې نوی خارجه وزیر سوی وو، د امریکا له خارجه وزیر جان فوسټر ډلس سره د خبرو لپاره واستاوه او د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پوځي مرستو لپاره يې وروستی غوښتنه ورته وړاندي کړه. ډلس ورته وويل چي وضع به مطالعه کړي او دوې مياشتي وروسته، د ډسمبر پر اته ويشتمه يې، په واشنګټن کي د افغانستان سفير محمدکبير لودين ته وليکل:
« ستاسي پر غوښتنه باندي ډېر زيات غور وسو. له افغانستان سره پوځي مرستي دونه ستونزي پيدا کوي چي ګټه به يې دونه نه وي لکه مشکلات چي پېښوی. افغانستان بايد د وسلو د غوښتني پر ځای له پاکستان سره د پښتونستان موضوع حل کړي. »
اوس نو د ډلس په نظر را پيداکېدونکي ستونزه څه وه. ده د افغانستان د ليک يوه کاپي په واشنګټن کي د پاکستان سفير امجدعلي ته لېږلي وه. دا عجيبه ده چي ډلس د افغانستان د پوځي مرستي غوښتنه له دي امله رد کړې وه چي ويل يې د افغانستان مقاماتو له امريکا څخه د پوځي مرستو دليل د شوروي تهديد بللی وو او د کمونيستانو پر ضد يې ډېر سخت کلمات استعمال کړي وه. د افغانستان دي سخت دريځ ډلس په دي عقيده کړی وو چي که افغانان د کمونيستانو سره دومره دښمني ولري نو بيا خو د هغوی په برخه کی هيڅ انديښنه لازمه نه ده.
د افغانستان حکومتي مقامات نه يوازي د دې وروستي جواب له امله ډېر ناراض سول بلکه د ډلس له خوا د ډيپلوماتيکو اصولو څخه دې سرغړوني سخت په غوسه کړي ول چي د دوی محرم مکتوب يې، د دوی رقيب هيواد، پاکستان ته لېږلی وو. يوه مياشت وروسته، د ۱۹۵۵ کال د جنوري په مياشت کي، افغانستان د شورويانو له خوا د پوځي مرستو هغه پېشنهاد چي پخوا يې رد کړی وو ومانه. د پوځي مرستو دغه موافقتنامه تر ۱۹۵۶ کال پوري لاسليک نه سوه مګر په ۱۹۵۵ کال کي د پښتونستان پر سر جنجال پاکستان او افغانستان د جنګ سرحد ته ورسول؛ او داوود خان د افغانستان تر ټولو باصلاحيته سياسي مرجع، لويه جرګه، را وبلله او هغوی د شوروي اتحاد دغه مرسته منظور کړه. د ۱۹۵۵ کال د ډسمبر په مياشت کي بولګانين او خروسچيف کابل ته ولاړل. په عامو ويناوو کي يې، د پښتونستان په مسله کي، د افغانستان د دريځ ملاتړ وکړ او پيشنهاد يې وکړ چي د افغانستان پوځ به له سره په وسلو سمبال کړي او پوځي او هوايي صاحب منصبان به يې ورته وروزي.
دا څرګنده ده چي کابل ته د مګي له سفر او په ۱۹۵۴ کال کي د ډلس او سردار نعيم تر کتني وروسته، افغانستان ته د پوځي مرستو د ورکولو مسله، د امريکا د مشرانو لپاره، داسي موضوع نه وه چي هسي سترګي ورباندي پټي کړي. سوړ جنګ په خپل زور روان وو او پاکستان د متحده اياالاتو سره رسمي اتحاد اعلاناوه. په دواړو وختونو کي، متحده ايالاتو د پښتونستان موضوع د افغانستان د پوځي مرستو له غوښتني سره تړلي وه. متحده ايالاتو خپل ځان په يوه مشکله وضع کي اچولی وو. بايد د يوه متحد او ملګري پاکستان او د يوه دوست افغانستان ترمنځ يې يو انتخاب کړی وای. امريکا طبعاً متحد ته ترجيح ورکړه.
په دې وخت کي يوه افسانه خپره سوه او هغه دا چي افغانستان له متحده اياالاتو څخه غوښتي دي چي که د وسلو مرسته راسره کوی نو زموږ امنيت به هم تضمينوی. د دغي ادعا د اثبات لپاره هيڅ ډول شواهد او اسناد وجود نه لري. خو سره له هغه هم هرچا دا خبره منلي وه. دا افسانه ښايي د امريکا د پوځي مشرانو له خپلو انديښنو څخه را ولاړه سوي وي چي که مو له افغانستان سره پوځي مرستي وکړې نو بيا خو به مجبور يو چي د شوروي د يرغل په صورت کي دفاع هم ورڅخه وکړو. د امريکا پوځ چي له شوروي اتحاد سره د افغانستان نيژدې والي او له نوري نړۍ څخه ګوښه والي ته کتل نو فکر يې کاوه چي له هغه هيواد څخه به دفاع ونه کړای سي. مګر افغانستان هيڅ وخت له امريکا څخه د خپل امنيت د تضمين غوښتنه نه ده کړې.
له شوروي اتحاد څخه د افغانستان د پوځي مرستي غوښتني د افغانستان او متحده ايالاتو ترمنځ ټول پوځي تماسونه قطع نه کړل. له دې څخه ځو لسيزي وروسته امريکا په افغانستان کي پوځي حضور درلود. د ۱۹۴۲ کال راهيسي، چي متحده ايالاتو په کابل کي خپله نمايندګي پرانيستي وه، امريکا خپل پوځي اتاشه درلود. په ۱۹۴۹ کال کي ډګرمن جان بي پاټيسن له کراچي څخه له خپلي الوتکي سره کابل ته ولاړی او هلته د هوايي قواوو اتشه وو. په راتلونکو څو کالو کي، دغي الوتکي ته اجازه ورکړه سوې وه چي په افغانستان کي تر ليري ځايونو پوري پروازونه وکړی؛ که څه هم چي شوروي اتحاد او کابل دواړه پوهېدل چي دغه الوتکه په کمرو سمباله ده. دغي الوتکي يو ځل لاره ورکه کړې وه او د شوروي سرحد ته نيژدې او يا ښايي د شوروي پر خاوره يې پرواز کړی وي؛ او د افغانستان خارجه وزارت يو نرم احتجاج هم ورباندي وکړ.
د امريکا ځينو پوځي اتشو او د هغوی کورنيو د افغانستان د هغو پوځي مقاماتو سره، چي د حاکمي غربي سوي طبقي سره يې اړه درلوده، شخصي اړيکي ټينګ کړي وه. له دغو منابعو څخه دوی د هغو صاحب منصبانو د سياسي افکارو او تماياالاتو په باب معلومات ترلاسه کول چي په شوروي اتحاد کي يې تحصيل کړی وو. مګر سره له هغه چي، په شوروي اتحاد کي دې روزل سويو صاحب منصبانو په ظاهره ښه اجتماعي اړيکي ټينګول مګر خپل اسرار يې دونه ټينګ ساتل چي هيچا ته يې څرک نه لګېدی. دې ټکي ته بايد اشاره وکړو چي د افغانستان استخباراتو هم ونه سو کړای چي په پوځ کي د کمونيستانو فعاليتونه کشف کړي. دا حقيقت د ۱۹۷۳ کال په کودتا کي، چي داوود خان يې دوهم ځل قدرت ته ورساوه او په ۱۹۷۸ کال کي چي کمونيستي کودتا يې وکړه او داوود خان پخپله پکښی ووژل سو، ښه څرګند سو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

د ۱۹۵۰ د لسیزي په وروستیو کلونو کي، د امریکا د هوایي قوې د هوا پېژندني یوې کوچنی ډلي، د لنډي مودې لپاره، په کابل کي د امریکا د سفارت د پوځي اتشه له دفتر سره کار وکړ. د دې ډلي ظاهري هدف د موسم په باره کي څېړنه وه. د سفارت د خارجي خدماتو څانګي ته تر پایه د هغوی د ماموریت د اصلي هدف په باره کي معلومات ونه سول مګر داسي ګومان یې کاوه چي هغوی د شوروي اتحاد او چین د اټومي آزمېښنو د څارلو وظیفه لري. په دغه وخت کي په کابل کي ډېري زیاتي امریکایاني حاملې سوې او ټوکمارانو ادعا کوله چي د دې ناڅاپي حمل علت د کمونیسټانو د اټومي آزمېښنو له امله خپرې سوي اټومي وړانګي دي. د ۱۹۵۷ کال په پسرلي کي چي زه د خپلو ګلابو په باغچه کي ګرځېدم نو ومي لیدل چي د ګلابو پر پاڼو او هر ځای باندي د ایرو یو ډول نامعلوم ګرد لوېدلی دی.
په ۱۹۵۷ کال کي، چي شوروي له افغانستان سره تقریباً دري کاله پوځي مرستي کړي وې نو د ملي امنیت شورا بالاخره په افغانستان کي د امریکا د امنیتي ګټو او اندېښنو په باره کي یوه څېړنه وکړه او د خطر زنګ یې وواهه:
« افغانستان د کمونیسټ بلاک څخه دونه زیات پورونه اخیستي او دونه د پورونو تر بار لاندي دی چي د هغه هیواد راتلونکي خپلواکي تهدیدوي. افغانستان هیله لري چي له دواړو بلاکونو څخه مرستي ترلاسه کړي مګر متحده ایالات دونه وس نه لري چي په جنوبي اسیا کي پېښني کنټرول کړي او وس یې ډېر محدود دی. متحده ایالات باید کوښښ وکړي چي د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اختلافاتو په حلولو کي برخه واخلي او افغانستان دې ته تشویق کړي چي پر کمونیسټ بلاک باندي د پوځیانو د روزلو او پوځي وسایلو د اخیستلو لپاره ډېره زیاته تکیه ونه کړي او له متحده ایالاتو او له نورو لوېدیځي نړۍ څخه مرستي وغواړي.»
داسي ښکاري چي د ملي امنیت شورا دې ته نه ده متوجه سوې چي څرنګه یې د پوځي مرستو په په برخه کي خپل دریځ ته داسي یو دم تغییر ورکړ په داسي حال کي چي په ۱۹۵۳ کال کي یې له دې سره بشپړ مخالف دریځ درلود، چي موږ مخکي اشاره ورته کړې وه. په هغه وخت کي افغانانو متحده ایالاتو ته زاری کولي چي د پښتونستان مسله ورته حل کړي او یو څه پوځي وسایل ورکړي؛ مګر د ملي امنیت شورا پر افغانستان باندي حساب قدر نه وو کړی.
د واشنګټن د دریځ د دې بدلېدلو یو علت، تر ډېره ځایه پوري، په کابل کي د امریکا د سفارت د کارونو بهترېدل وه. په ۱۹۵۵ کال کي چي د انګوس وارډ Angus Ward پر ځای باندي شیلډن ټي میلز Sheldon T. Mills وټاکل سو او له هغه سره د خپل فعال مرستیال ارمین مایر Armin Meyer ملاتړ ملګری سو نو سفارت په افغانستان کي د شوروي د تهدید د پرله پسي انکشاف په باره کي ښه تحلیلونه وکړل او مرکز ته یې ریپوټونه ولېږل. دلته نو د واشنګټن د سندرو سور بدل سو او سفارت وکړای سول چي د افغانستان له حکومت څخه په ۱۹۵۷ کال کي یو رسمي درخواست ترلاسه کړي چي د افغانستان پوځي افسرانو ته په متحده ایالاتو کي د روزني زمینه برابره کړي. افغانستان مخکي هم دغه ډول خواستونه کړي او رد سوي وه مګر اوس چي هغه هیواد له شوروي اتحاد څخه پوځي مرستي ترلاسه کړي او شوروي اتحاد یې پوځیان ورته روزل نو له واشنګټن سره هم دا فکر پیدا سو چي باید په افغانستان کي د شوروي د نفوذ په مقابل کي یو څه ولري. په نتیجه کي یو پروګرام چي تقریباً شل کاله یې دوام وکړ منظور سو او د هغه په اساس امریکا موافقه وکړه چي د افغانستان یو کم شمېر صاحب منصبان د امریکا په مختلفو پوځي پوهنځیو کي ورته وروزي. دا ډېره ژر څرګنده سوه چي د افغانستان حکومت، د سیاسي ملحوظاتو له امله، له دې پروګرام سره زړه نازړه موافقه کړې وه. دوی غوښتل چي په دې توګه هم شوروي اتحاد ته د ګڼ شمېر تلونکو صاحب منصبانو په مقابل کي یو تش په نامه انډول هم برابر کړي او له بلې خوا څرګنده چي په دغه وخت کي د متحده ایالاتو اقتصادي مرستي هم ور رواني وې نو باید چي دغه اړخ یې هم په نظر کي ورسره نیولی وای. د افغانستان حکومت هر وخت متحده ایالاتو ته خپل لایق افسران نه لېږل او کله کله خو به یې لا پلمه کوله چي وړ او لایق اشخاص د لېږلو لپاره نه لري. له یوې خوا د افغانستان د حکومت د دلچسپی نه درلودل او له بلې خوا د امریکا پېچلو مالي غوښتنو د دې پروګرام موثریت ډېر ژر ختم کړ.
د ۱۹۵۴ کال راهیسي چي امریکا د افغانستان له خوا د پوځي مرستو غوښتنه، د وروستي ځل لپاره، رد کړه نو په پوځي چارو پوري مربوط یو شمېر نور موضوعات هم پېښ سول چي د امریکا او افغانستان پر اړیکو یې اغېزه وکړه. د ۱۹۵۷ کال د جنوري پر پنځمه جمهوررئیس ایزنهاور د کانګرئیس له ګډي غونډي څخه وغوښتل چي د امریکا قواوو ته اجازه ورکړي چي په منځني ختیځ کي د کمونیسټانو د یرغل په مقابل کي عملیات او د منځني ختیځ ساتنه وکړي.کانګرئیس د PL85-7 یوه ګډه پرېکړه منظوره کړه چي د نورو شیانو ترڅنګ یې، جمهوررئیس ته، دا صلاحیت هم ورکړ:
« که چیري جمهوررئیس غوښتنه وکړي نو متحده ایالات دې ته تیار دي چي له هر هغه هیواد او هیوادونو سره، چي د بین المللي کمونیزم تر کنټرول لاندي هر هیواد تر پوځي یرغل لاندي راسي پوځي مرسته وکړي او خپلي وسله والي قواوي ور ولېږي: په دې شرط چي له پوځي قواوو څخه دغه راز کار اخیستل د متحده ایالاتو له مسوولیتونو او د متحده ایالاتو له اساسي قانون سره مطابق وي.
جمهور رئیس دغه راز دا واک لري چي، د متحده ایالاتو د بودیجي له هري برخي څخه چي یې زړه سي، دوه سوه میلیونه ډالره، د ۱۹۵۴ کال د متقابلي دفاع د قانون د عملي کولو لپاره، ولګوي. »


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د کانګریس د ګډي غونډی دغه فیصله ډېر ژر د ایزنهاور ډاکټرین یا اصول وبلل سول. جمهوررئیس هم د دغو موادو د عملي کولو لپاره کار پیل کړ او د اولسي جرګې پخوانی غړی او د خارجي اړیکو د کمېټې پخوانی رئیس جېمز پي ریچرډز James P Richards یې خپل خاص سفیرمقرر کړ. د منځني ختیځ یو شمېر هیوادونو ته د تللو وظیفه یې ورکړه او ورته وې ویل چي هغوی ته د ده ډاکټرین تشریح کړي او وګوري چي کوم هیوادونه تر دغه ډاکټرین لاندي وسائل سي. په کابل کي د امریکا سفیر له افغان حکومت څخه پوښتنه وکړه چي غواړي ریچرډز افغانستان ته سفر وکړي کنه. ده بشپړ انتظار درلود چي د افغانستان مقامات به له شوروي سره د اړیکو له امله، د ده غوښتنه په ادب سره رد کړي. د د ۱۹۵۷ کال د فبروري پر پنځه ویشتمه، د ده د انتظار په خلاف، د افغانستان حکومت سفارت ته یاداشت واستاوه او پکښي لیکلي یې وه چي نه یوازي به د ریچرډز هرکلی وکړي بلکه په کابل کي د اوسېدلو په شپو کي به د دولت مېلمه وي. دا یو ډېر ځیرک عمل وو. د افغانستان حکومت غوښتل د متحده ایالاتو څخه د امنیت د تضمین امکانات وپلټي؛ او کله چي یې هغه دولتي مېلمه وي نو د هغه ټول پروګرام او تماسونه به کنټرول کړای سي.

ریچرډز د ۱۹۵۷ کال د مارچ پر شپږ ویشتمه، د منځني ختیځ په یو شمېر نورو هیوادونو کي له تم کېدلو څخه وروسته، کابل ته ورسېدی. له ده سره د خارجه وزارت، د دفاع د وزارت، د بین اللملي انکشاف د اداري، د متحده ایالاتو د اطلاعاتو د اداري USIA مامورین، سکرټران او د هیات د سفر مرستیالان ورسره وه.

کله چي ریچرډز د سفارت له مامورینو سره بحثونه پیل کړل نو سمدستي معلومه سوه چي په منځ کي یوه جدي غلط فهمي موجوده ده. د افغانستان حکومت په څرګنده ویلي وه چي دوی له هیڅ ډول هغي اعلامیې د صادرېدلو سره موافقه نه لري چي په هغي کي د کانګریس د پرېکړي کلمات راغلي وي چي وایی امریکا به د بین المللی کمونیزم تر کنټرول لاندي هیوادونو د یرغل په مقابل کي دفاع ورڅخه کوي. د افغانستان حکومت هیله درلوده چي د اعلامیې څخه دغه کلمات لیري سي ځکه چي دوی له شوروي اتحاد سره دوستانه اړیکي درلودل او دا کلمات پر هغوی باندي تېری دی او په غوسه کوي یې. کله چي ریچرډز دا افغانستان د حکومت دا نظر واورېدی نو هغه خواشینی سو ځکه چي د ده د ټول ماموریت هدف همدغه کلمات وه.

مګر څه چي وروسته پېښېده هغه تر دې هم بدتر وه. په سفارت کي له هیات سره په مقدماتي خبرو کي د خارجه وزارت د استازو جان جرنیګن او ویلیم بوردیټ له اظهاراتو څخه څرګنده سوه چي دا د خارجه وزارت د اجرائیوي څانګي رسمي دریځ دی چي افغانستان باید په هغو هیوادونو کي شامل نه کړل سي چي متحده ایالاتو یې د امنیت ذمه وهلې او د ژغورلو لپاره به یې قواوي ورته رالیږي. په عین وخت کي دا هم غلطه خبره وه چي افغانستان د دغو هیوادونو په کتار کي یاد سوی نه وای ځکه د دې معنا شورویانو ته پر افغانستان باندي د یرغل کولو بلنه ورکول وه. شوروي اتحاد په ډېره اسانی په دې پوهېدلای سوای چي افغانستان د دفاع لپاره څوک نه لري او چي څه د شوروي زړه غواړي هغه به کیږي. سفارت دغه راز ویله چي دا به د افغانستان په ګټه نه وي چي که موږ هغه د کمونیزم پر ضد دریځ نیولو ته مجبور کړو؛ ځکه چي د هغوی دغه ډول دریځ به شورویان ولمسوي. که شورویانو یرغل ورباندي وکړ او افغانستان ته مشکلات پېښ سول نو بیا خو به یې حتما د امریکا مرستي ته سترګي نیولي وي او دا د متحده ایالاتو اخلاقي وظیفه ده چي دفاع هم ورڅخه وکړي. ځکه چي دا یرغل به د امریکا سره د ملګرتوب له امله ورباندي سوی وي، په داسي حال کي چي موږ ته معلومه وه چي افغانستان هر وخت د شورویانو د یرغل په خطر کي وو. کله چي ریچرډز د دې له ابهامه ډک دریځ په باب خبري واورېدلي نو ډېر سخت په قار سو او په زغرده یې وویل: « که زه پوهېدلای چي افغانستان د ایزنهاور په ډاکټرین کي شامل نه دی نو زه به دلته هسي د لوبو لپاره بیخي راغلی نه وای! »

کله چي د هیات او د افغانستان د حکومت ترمنځ خبري پیل سوي نو داهم څرګنده سوه، که څه هم چي چا رسما ونه ویل، چي د افغانستان حکومت غواړي چي متحده ایالات یو پټ ضمانت ورکړي او دغه راز که ممکنه وي یو څه پوځي مرستي هم ورسره وسي مګر په داسي توګه چي شورویان ونه لمسول سي. دوی دغه راز متحده ایالاتو ته د کندهار کابل ترمنځ د اورګاډي د پټلی د جوړولو ټینګ خواست وکړ مګر امریکایانو پر دې غوښتني باندي حتی بحث هم ونه کړ. داسي څرګنده سوه چي افغانستان نه غواړي د ایزنهاور د ډاکټرین په اساس یې تضمین وسي مګر دا یې هم نه غوښتل چي له دې ضمانت څخه بې برخي سي. متحده ایالاتو هم نه غوښتل چي افغانستان د ډاکټرین په اساس تضمین کړي مګر دا یې هم نه غوښتل چي افغانستان بیخي وباسي. ریچرډز په دې مبهمه وضع کي هک پک سو او نه پوهېدی چي څه وکړي.

مګر دواړو خواوو له ډیپلوماسی څخه په مهارت ګټه واخیستله او خبره تېره سوه. دواړو خواوو دا خبره داسي جوړه کړه لکه د ریچرډز د دې سفر هدف چي له افغانستان سره د متحده ایالاتو مرسته وه. ریچرډز د څه باندي پنځو میلیونو ډالرو اقتصادي مرستي پیشنهاد وکړ او دغه راز یې ۳۶۰ زره ډالره د پولیسو او ژاندارم د روزلو لپاره ورسره ومنل او یو څه وسایل او سامان آلات، چي افغانستان یې د ۱۹۴۵ کال راهیسي پرله پسي غوښتني کړي وې، ورسره ومنل. له بده مرغه چي د دې شیانو لپاره ډېر ناوخته وو. د افغانستان د پولیسو او ژاندارم د تقویه کولو لپاره د متحده ایالاتو کوښښونه ناکام سول. امریکا د پولیسو د چارو یو سلاکار، له وسایلو سره، افغانستان ته واستاوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغانستان وسایلو ته اړتیا درلوده او سلاکار ته يې ضرورت نه درلود. سلاکار بېکاره پاته سو او کوښښونو يې هیڅ ځای ونه نیوی. افغانستان، د روزني لپاره، ډېر لږ صاحب منصبان متحده ایالاتوته واستول او اکثرو يې د روزني د پروګرام سویه نه درلوده. امریکایانو بالاخره کرار کرار له دې پروژې څخه لاس واخیست او دا په ۱۹۶۲ کال کي د ریچرډز د سفر وروستی نښي وې.

د ریچرډز او داوود خان ترمنځ په خبرو کي، ریچرډز، چي تر دغه وخته پوري يې ځان په هرڅه پوه کړی وو، ټولي خبري د ایزنهاور د ډاکټرین پر تاریخ او اهدافو باندي وکړې. داوود خان هم، چي ظاهراً خپلو ملګرو ښه پوره معلومات ورکړي وه، د متحده ایالاتو د تضمینونو غوښتنه ونه کړه او یوازي دونه يې وویل چي د افغانستان استقلال ډېر زیات او اساسي اهمیت ورته لري او افغانستان به هیڅ وخت کمونیستې هیواد نه سي او متحده ایالاتو ته هر وخت د لومړي دوست په سترګه ګوري. تر ډېرو خبرو وروسته، بالاخره د اعلامیې په متن کي د افغانستان پر بېطرفی باندي ډېر ټینګار وسو او د بین المللي کمونیزم تر کنټرول لاندي هیوادونو د یرغل پر ځای د هر هیواد له خوا د یرغل کلمه ذکر سوه. نور نو دا ټوله کیسه هسي یوه ټوکه او بېخونده ډرامه وه او د پوځي مرستو په ارتباط د افغانستان او متحده ایالاتو د تاریخ یوه بله کړۍ وه.

افغانستان له امریکا څخه ډیپلوماټیک تضمین داسي واخیست چي د ریچرډز د وروستي سفر په نتیجه کي خارجه وزیر سردار نعیم ماسکو ته سفر وکړ. داوود خان ترکیې، پولینډ او چکوسلواکیا ته سفر وکړ او وروسته ظاهرشاه هم ماسکو ته یو سفر وکړ.

په ۱۹۶۸ کال کي د روسیې پوځي مرستو د غنمو لپاره د افغانستان د مرستو پر غوښتنه باندي، چي د سختی قحطی په وخت کي يې کړې وه، منفي اغېزه وکړه. دغنمو د غوښتلو مرسته تر هغه قانون لاندي راغله چي هغو هیوادونو ته يې د غنمو ورکول محدود کړي وه چي زیات پوځي لګښتونه لري. ستونزه په دې کي وه چي له افغانستان سره د شوروي اتحاد پوځي مرستي په داسي محرمانه توګه کېدلې چي د امریکا سفارت په دې نه وو خبر چي د افغانستان پوځي لګښتونه څومره دي؛ او افغانانو هم په دې باره کي د څه ویلو څخه انکار کاوه. د افغانستان حکومت بالاخره متحده ایالاتو ته اطمینان ورکړ چي له شوروي او کمونیستي هیوادونو څخه يې د وسلو د رانیولو لګښتونه بیخي کم کړي دي. امریکا قناعت کولو ته مجبوره سوه او د غنمو د پور پروګرام منظور سو.

له افغانستان سره د امریکا د پوځي مرستو ( یا نه مرستو ) تاریخ داسي خلاصه کولای سو چي امریکا د څو کلونو په اوږدو کي د پوځي مرستو لپاره د افغانستان امنیت ته توجه ونه کړه او هغوی ته يې د وسلو له ورکولو څخه ډډه وکړه او د امریکا دغه کار داسي مرګانی نتیجه ورکړه چي بالاخره يې داوود خان له شوروي اتحاد څخه د وسلو اخیستلو ته مجبور کړ او د افغانستان په پوځ کي يې د شوروي نفوذ ته لاره خلاصه کړه. د افغانستان په پوځ کي د کمونیستانو هستو، چی شوروي اتحاد د افغانستان په پوځ او هوایی قوه کي نصب کړي وې، بالاخره د ۱۹۷۸ کال د اپریل په میاشت کي خپله خونړی کودتا وکړه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ